## مطبوعاتي اعلامیه

## علما دې د فلسطین د ازادۍ لپاره د پاکستان پر پوځ د جهاد فرضیت اعلان کړي!

(ژباړه)

د پاکستان پوځ د ۲۰۲۳م کال، د نومبر په ۱۷مه په یوه اعلامیه کې د علماوو او مشایخو له یوه پلاوي سره د پوځ د مشر، جنرال عاصم منیر د لیدنې تفصیل خپور کړ. سره له دې چې د اعلامیې له خپرېدو ډېرې ورځې تېرې شوې، خو د علماوو له ډلې یوه یې هم د یادې اعلامیې منځپانګه نه رد کړې او نه یې په اړه خپل مخالفت ښودلی. په دې اعلامیه کې راغلي چې «علما او مشایخ د افراطیت او ترهګرۍ په غندنه کې سره متفق دي ...» «د ناستې ګډونوال د ناقانوني بهرنیو کډوالو د ایستلو په ګډون، د دولت له لوري د سختو اقداماتو په ملاتړ کې یوه خوله وو» «په دغې ناسته کې د غزې د روانې جګړې او ظلمونو په اړه خواشیني څرګنده شوې» او «د پوځ مشر  د علماوو د دغې فتوا، "پاکستان پیغام" ستاینه کړې چې د افراطیانو او ترهګرو لخوا غولوونکي پروپاګند خپرول پکې رد شوي...»

په دغه لیدنه کې علماوو او مشایخو د پیغمبرانو د وارثانو په څېر عمل نه دی کړی. دوی د مظلومو افغان مسلمانانو په شړلو کې حکام محاسبه نه کړل. د امر باالمعروف او نهی عن المنکر مکلفیت یې ادا نه کړ. دوی د پوځ مشر محاسبه نه کړ چې د پاکستان پیاوړی او لېواله پوځ یې د غزې د مظلومو ماشومانو او ښځو له ملاتړ او خپل مکلفیت له ترسره کولو راګرځولی. د دې پر ځای یې د حکامو د اجنډا ملاتړ وکړ. ښکاري چې علما او مشایخ د پاکستان د حکامو د ظالمانه پالیسۍ او جهاد پرېښودلو د پرېکړې ملاتړ کوي.

دا د علماوو مکلفیت دی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د امت د سلفو پر پله پل کېږدي او د غزې د خلکو د دفاع نه کولو او خپل دغه مسولیت څخه د سرغړونې په سبب د پوځ مشر محاسبه کړي. علما مسول دي چې د پاکستان پر وسله والو ځواکونو جهاد فرض عین اعلان کړي او د غزې د مسلمانانو د ساتنې او دفاع لپاره یې بسیج کړي. موږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم د قول «الدِّینُ النَّصِیحَةُ» «دین نصیحت دی» [بخاري او مسلم]، پر بنسټ علماوو ته نصیحت کوو چې د ظالمو حکامو له امنیتي ادارو څخه مه وېرېږئ. دوی باید د خلکو په منځ کې د شیطانانو وسواس له منځه یوسي. دوی باید د حکامو خیانت پټ نه کړي، بلکې ویې ننګوي. دوی باید په ظلم کې د حکامو له ملاتړ څخه ډډه وکړي.

اې علماوو او مشایخو، د هغو دولتي ادارو د چارواکو هرکلی مه کوئ چې د ظالمانو له لوري مو ګوابښي. له کومې وېرې پرته له منبرونو څخه د الله سبحانه وتعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم اوامر اعلان کړئ. د امت د رهبرۍ لپاره خپل مکلفیت ادا کړئ. ستاسو سلفو په خوښۍ سره د ظالمانو په لاس کړاوونه او زندانونه ګالل. د حاکم د محاسبې له شرعي حکم څخه یې مخ نه اړاوه. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**«أَلاَ لاَ يَمْنَعَنَّ أَحَدَكُمْ هَيْبَةُ النَّاسِ أَنْ يَقُولَ بِحَقٍ إِذَا رَآهُ أَوْ شَهِدَهُ، فَإِنَّهُ لاَ يُقَرِّبُ مِنْ أَجَلٍ وَلاَ يُبَاعِدُ مِنْ رِزْقٍ أَنْ يَقُولَ بِحَقٍّ أَوْ يُذَكِّرَ بِعَظِيمٍ»** [رواه احمد، ابن حبان او ابن ماجه]

**ژباړه:** *«مه پرېږدئ چې له خلکو څخه ويره مو د حق له ويلو او څرګندولو منع کړي، ځکه چې د حق ويل يو ستر کار دی، چې نه مرګ نږدې کولای او نه هم رزق لرې کولای شي.»*

الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ﴾** [فاطر: ۲۸]

**ژباړه:** *«د الله تعالی له بندګانو څخه يوازې علما له هغه تعالی څخه وېره لري (هغه وېره چې د خپلو امورو پر عاقبت دپوهېدو په پايله کې د احترام او تعظيم لامل کېږي)»*

په دې توګه د علماوو تر ټولو ستره انديښنه له انسانانو څخه وېره نه، بلکې له الله سبحانه وتعالی څخه وېره ده. علما بايد د مسلمانانو رهبري وکړي، که هغه د حکامو محاسبه وي او که امر باالمعروف او نهی عن المنکر. موږ علماوو ته د رسول الله صلی الله عليه وسلم د دغه قول يادونه کوو، چې فرمايي:

**«أَفْضَلُ الْجِهَادِ كَلِمَةُ عَدْلٍ عِنْدَ سُلْطَانٍ جَائِرٍ أَوْ أَمِيرٍ جَائِرٍ» [ابو داود، احمد]**

**ژباړه** *«تر ټولو غوره جهاد د ظالم پاچا پر وړاندې د حق خبره ده.»*

او همدا راز هغه صلی الله عليه وسلم فرمايي:

**«سَيِّدُ الشُّهَدَاءِ حَمْزَةُ بن عَبْدِ الْمُطَّلِبِ، ورجلٌ قام إلى إمامٍ جائرٍ فأمره ونهاه فقتله» [الحكيم]**

**ژباړه:** *«د شهيدانو سردار حمزه بن عبدالمطلب دی او بل هغه کس دی چې د ظالم حاکم د ظلم پر وړاندې ودرېږي او په پايله کې شهيد شي.»*

موږ علماوو ته ور يادوو چې ستاسو هر کمزوري دريځ به امت کمزوری کړي. تاسو د قيامت ورځې ته پر خپلو اوږو بار زياتوئ. نو حق ووايئ؛ پر حق ستاسو استقامت او د الله سبحانه وتعالی په لار کې ستاسو سربښندنې به امت ته زور او قوت ورکړي. تاسو بايد د پاکستان له وسله والو ځواکونو څخه د د فلسطين د ازادۍ لپاره جهاد په

غوښتنه کې د امت رهبري وکړئ. د قرآن او نبوي سنتو د لېږدوونکو په توګه دا ستاسو مسوولیت دی؛ که نه نو د قیامت په ورځ به د الله سبحانه وتعالی په مخ کې د غزې مظلوم مسلمانان د دغو ظالمو حکامو او ستاسو پر ضد شاهدي وايي!

**د حزب التحرير- ولايه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۵ هـ.ق کال، د جمادی الاول ۱۱مه**

**۲۰۲۳م کال، د نومبر ۲۵مه**

**د صدور ګڼه: ۲۱/ ۱۴۴۵**

**ژباړن: محمد حامد**